**لیکونکی** : توماس ګایست (Thomas Gaist).
**منبع اودنشر نیټه**:« ګلوبال ریسرچ ۲۰۱۶-۱-۲۷».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

---

# دامریکی متحده ایالات د یو طرح کېل شوی پروګرام له مخی غواړی چی خپل نظامی قوتونه په افغانستان کی د څو لسیزو دپا ره وسا تی

**US planning to keep Military forces in Afghanistan for "Decades"**

مخکینی پریکړه دا وه چی دامریکی دمتحده ایالاتو نظامی قوتونه باید په کال (۲۰۱۷) کی له افغانستان څخه پښیی سپکی کړی اووځی اما اوس دیوامریکای نظامی لوړ پوړی مشر له خوا کوم چی دخپل نوم داخیستو څخه ډډه وکړ واشنګټن پُست ته په ډاګه کړ چی امریکا یی نظامی قوتونه به په افغانستان کی دڅو نورو لسیزو د پاره پاتی کیږی.



دامریکی د متحده ایالاتو اردو په نظرکی لری چی دخپل زرګونو تنو نظامی قوتونه شتون ا وحضورپه افغانستان کی دڅو لسیزودپاره وساتی داهغه څرګندونه دی کوم چی دامریکی یولوړ پوړی چاواکی چی د خپل نوم داخیستلو څخه ډډه وکړ د سه شنبی په ورځ واشنګټن پست ته په ډاګه کړ .

په افغانستان کی دامریکایی سرتیرو د اوږدی مودی دپا تی کید و تا ید ی اواصلی دلیل په کابل کی دامریکی تر ملاتړ لاندی د رژیم بی ثبا تی اود افغانستان د پلازمینه کابل نیمګړی اوشکنن امنیتی حالت ددی امریکایی نظامی مشر له خوا عنوان شوی چی کابل دشورشی ډلو ټپلو په شمول دطالبانو – القاعده اوداسلامی عراق وسوریه دجنګیا لیو له طرفه تر ګواښ لاندی پریوتی دی .

اشرف غنی دافغانستان اوسنی جمهور ریس دامریکی دمتحده ایالاتو اود«ناتو» لاس ناستی کوم چی د یو تحمیلی ټولټا کنی په ترڅ کی دا فغانستان د جمهور ریس په حیث

*وناکل شو چې نظر دامریکې دمتحده ایالاتو ترملاتړ لاندې دافغانستان دخلکو له نظره منحرف او دکرکې وړ پخوانی حاکم «حامد کرزی» په پرتله دکار زیات چمتوالی لری ښاغلی «غنی» دیو امریکا یې لوړپوړی مقام له طرفه دیو«متمایل اودباور وړ شریک » په صفت وستایل شو او هغه داچې« غنی» کولای شی چې د تروریستی گروپونو د مینځه وړلو د پا ره نه یوائې په افغانستان کې د یرغل د پا ره تل یا اړه چمتو کړی بلکه هغه کولای شی چې د جنوبی آسیا په سرتاسر کې هغه داوږدی مودی گواښ کوم چې هغه سیمه په مزمن بڼې سره نارامه دی هم دتروریستا نو دځپلو دپاره ټا کلی گامونه را وچت کړی .*

*دامریکی دمتحده ایالاتو دغه لوړ پوړی مقام دخپل خبرو اوڅرگندونو په لړ کې داسې زیا ته کړ :* ***دلته په پښتا گون کې دمسولو مقا ما تو سره دا احساس او پوهه موجوده دی چې دافغانستان داردو او د پولیسو د قوتونو د موثر او دغښتلی جوړښت د پاره دیو نسل تعهد اودهغه سره په څنگ کې یوځای هرکال بیلینونو ډالر ما لی لگښت ته ضرورت لیدل کیږی .***

*پر افغانستان با ندی دامریکی اود نا تو نظامی مداخله اوتیری دزرگونوباند نیومشاورینو له خوا ملاتړ شو اود همدی اصل په نظر کې نیولو سره دامریکی د متحده ایالاتو دغه لوړپوړی چارواکی دخپل خبرو په دوام کې داسی وویل :*

***( مونږ پوه شو او یا داسی مو زده کړچې تا سی افغانستان نشي پریښودلی - یوائې داچه له افغانستان څخه وتلی نشی بلکه حالات داسی حکم کوی چې تا سی هلته باید داوږدی مودی دپاره اووسی !) .***

*داوباما داداری دغه رسمی مقام چې د خپل هویت د څرگند لو څخه ډډه وکړ په تاکیدی بڼی سره یاده کړ چې دامریکی دمتحده ایالاتو دسپینی ما نی مسول مقام په افغانستان کې دامریکی دسرتیرو د پا تې کیدو پلان څخه ملاتړ وکړ اوداسی یې څرگند کړ:*

*پرافغانستان با ندی دامریکی تیری او مداخله کټ مټ د امریکی هغه مداخلی ته پا تې کیږی کوم چې امریکا پرجنوبی کوریا با ندی ترسره کړ یعنی واشنگټن ددوهمی نړیوال جگړی څخه لاتراوسه په زرگونوامریکا یی سرتیری هلته داوقیانوس په څنډه «ژی» کې دخپل تیکا و او د تسلط دجاری سا تلو د پا ره پلی کړ .*

*واشنگټن پُست پخپل یو راپور کې داسی په ډاگه کړ چې د ا مریکی دمتحده ایالات حکومت په عملی بڼی سره آزاد مطبوعات ته ترکومی اندازی پوری مجوز ورکوی چې هغوی په پراخه بڼي سره دامریکی دمتحده ایالاتود نظامیا نوورتگ اوحرکت په مرکزی آسیا ،مینځنی ختیځ اودافریقی دوچې په شمال کې ترخپل څیړنی او پوشش لاندی ونیسی.*

*د یادونی بل مهم مطلب داچې داوباما اداره تیره اونی خپل نظامی لوړ پوړی چارواکو ته دیودستور په لاس لیک کولو سره اجازه ورکړ چې دامریکی د متحده ایالاتو سرتیری د افغانستا ن په شمال شرق کې د عراق وسوری د اسلامی دولت د جنگیا لیو د ځپلو*

اود تا رومارکولو تر نامه لاندی  نظامی عملیا تونه تر سره کړی –همدارنګه دامریکی د متحده ایالاتو ددفاع وزیر اشتون کارتر(Ashton Carter) دیو اعلامی په ترڅ کی په ډاګه کړچی هغه ځان متعهد ګڼی چی په عراق کی خپل خمکنی سرتیری دیولړ عملیاتونو دترسره کولو په مقصد پلی کړی  - یوه بله موضوع چی د لته دهغه یا دونه ضرور ګڼل کیږی هغه دادی چی د امریکی د متحده ایالاتو د جمهور ریس مرستیا ل جوزف با یدن (Joseph Biden) داسی په ډاګه کړچی واشنګټن په سوریه کی دیو نظامی دحل دلاری په لټونو او میند نو کی دی.

دبلی خوا څخه دامریکی دمتحده ایالاتو جنرال جوزف دانفورد(General .J.Dunford) په یوخبری ناسته کی داسی په ډاګه کړ چی د امریکی متحده ایالات د خپل نژدی متحد « ناتو» سره په ګډه په لیبیا کی دیو(پریکړنی نظامی اقدام ) په درشل کی دی .

ددانفورد دغه بیانیه په لیبیا کی  داسلامی دولت په وړاند ددریمی جبهی د پرانیستلو یوسګنال دی  داهغه مطلب دای چی نیویارک ټایم دخپل سه شنبی دګڼی په سرمقا له کی په نشر رسولی دی د امریکی د متحده ایالاتو په لیبیا کی دغه نوی جنګ په ډیر آسا نی سره به دجنګ لمن ددی وچي په نورو هیوادونوکی هم وغوړوی - ټایمس په دی موضوع باندی داسی رڼا واچول چی دواشنګټن جګړه مارو مخکی له دی چی دامریکی دمتحده ایالاتو د نظامی قوتونو دپکاراچولو مجوز له کنګرس څخه ترلاسه کړی خپل قرار یی خپور کړل.

**د امریکی دمتحده ایالاتو اوداروپایی قوتونه ترمینځ د نړی د بیا له سره دویشلو پر سر رقابت اوسیا لی امریکی دی ته راوکا ږل چی خپل نظا می قوتونه تر نا معلومی لسیزو پوری په افغانستان کی وسا تی دا د امریکی د متحده ایالاتو هغه ستراتیژیکی محا سبه دی کوم چی دامریکی امپریالیزم غواړی چی په منطقه او بیا په مرکزی آسیا کی خپل محوریت تینګ وسا تی .**

دامریکی د متحده ایالاتو حاکم ځواک او دهغه هیواد نظا می قوت په دی لټه کی دی چی افغانستان دخپل راتلونکی نظامی عملیاتونو په یوه دایمی نظامی اډی باندی واړوی چی د همدی اډی په لرلو سره وشی کړلی چی په جنوبی اومرکزی آسیا کی خپل ستراتیژیکی اهدافو ته ورسیږی –نودهمدی نیت په لرلو سره واشنګټن پریکړه کړی دی چی دایروآسیا(Eurasia) په سرتا سری کی دخپل قدرت د پیاوړی کیدو د پاره تبلیغاتی مبارزه جاری وسا تی چی دهمدی تبلیغاتی مبارزی په رڼا کی روسیه او چین بی ثباته او ناقراره کړی اوپه ډیر چالاکی سره داسی حالت مینځ ته راولی چی د هغی په ترڅ کی وشی کړلی چی د نړی په اقتصا دی زیرمو با ندی د کنترول لاس پیدا کړی .

د یکشنبی په ورځ دکارنیګی (دامریکی دمتحده ایالاتودښونی اودروزنی بشری خیریه موسسه ) بنیا د او دنوموړی هیواد یو راوتلی اومشهورد تنویری خونی دفکرخاوندان

داسی یو یاداشت په نشر وسپارل : [ په مرکزی آسیا کی دجیوپولیتیکو د تغیراتو په اړه دنړی د ځواکمنو قدرتونو ترمینځ په ساحه کی دتسلط دترلاسه کولو سیالی او رقابت سر راپورته کړی دی - نو د همدی اصل په نظر کی نیولو سره نوموړی خیریه بنیاد ( کارنیګی ) امریکی ته داسی وړاندیز کوی چی واشنګټن په منطقه کی باید زر تزره ځان دقزاقستان او ازبکستان سره سرګرم اونژدی کړی تر څو چی وکولای شی روسیه اوچین مهار کړی اوپه منطقه کی دخپل راتلونکی هد فمند فعا لیتونو دسر ته رسولو د پا ره شرایط چمتو کړی .]

په افغانستان کی دامریکی د متحده ایالاتو د نظامی قوتونو شتون اوحضور په نړیوال مبارزه کی د مسکو اود پیکن پر ضد یو اسا سی رکن یا برخه شمیرل کیږی لکه هغسی چی دامریکی د متحده ایالاتو د امپریالیزم ستراتیژیستان په ډاګه سره داسی توضیح کوی اوهغه دا چی په دی منطقه کی د روسی اود چین لاس وهنه اودخا لت دی حد پوری رسید لی کوم چی په منطقه کی دامریکی د متحده ایالاتو د پاره چندان د میلمه پالنی ځای پا تی نه دی نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره د کارنیګی بنیاد داسی لیکی :

داوباما اداره دتیرکال داپریل په میاشت کی د«مرکزی آسیا په اړه د یو ثا بت او تلپا تی څارنی » طرح او پلان تصو یب کړ چی د هغه پلان په رڼا کی د امریکی امنیتی او نظامی مسولینو ته لارښونه شوی چی د بشری حقونو دسا زمان د جوړښت دپاره خپل اړیکی دمنطقی سره تینګ کړی . .

د بلی خواڅخه تولو ته روښا نه دی کوم چی د امریکی د متحده ایالاتو د باند نیو چارو وزیر ښاغلی «جان کیری» په تیر نومبر میا شت کی دسپینی مانی دلړلید په نظر کی نیولو سره مرکزی آسیا ته د خبل سفر په وخت دهغه منطقی دپنځو هیوادونو دحکومتی مشرانوسره یو نهاد یا(Forum) د پنځه جمع یو (C5+1) هیوادونو ترعنوان لاندی ایجاد کړ او ځا ن یی متعهد وګڼل چی ددی نوی ایجاد شوی فورم« جرګه ځای» سره به دامریکی دمتحده ایالاتو کومکونه اومرستی جا ری سا تی .

د مینځنی آسیا هیوادونه د ترور سره په جګړه کی ستر مرستی ترسره کړ اودغه هیوادونه د ستر ځواک اود پوتا نسیل لرونکی هیوادونه دی چی کولای شی په منطقه کی دروسی اود چین د نفوذ اودبرلاسیی مخه ونیسی – نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره تیره اونی دجورج واشنګتن دیوهنتون د بین المللی روابطو په نشریه کی ( مرکزی آسیا ته دامریکی د متحده ایالاتو دلاس رسی لړلید یا څارنی ) ترعنوان لاندی یو راپور په نشر رسیدلی وه چی دکتونکو پام ځانته واړول .

دچین په ولویدیز کی له انرژی څخه بډا دسینکیانګ (xinjaing) ولایت هم دامریکی دمتحده ایالاتو دباندنیو چارو دوزرات تر ملاتړ لاندی دغیر دولتی سازمانونو شبکی کوم چی دچین ترکلک سرکوب او پړکیدو لاندی پریوتی دی ځانګړی پاملرنه ځانته رااړولی

دی دا هغه واقیعت دی کوم چې دجنوری دمیاشتی په پیل کی نیویارک تا یمس پخپل یو گڼه کی راپور ورکړی وه .

د چین حاکمه نخبګا ن اوچاړواکی په دی لټه کی دی چی په افغانستا ن کی د بحران ککړ رژیم سره چی دامریکی تر ملاتړ لاندی دی د بحران د حل د لاری د میند لو په روند کی ځان پوره شریک کړی – نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره پکن زیار باسی چی دافغانستان دسولی په روند کی کوم چی دامریکی متحده ایالات او پاکستان په دی روند کی برخه اخیستی دی چین هم غواړی چی په دی روند کی دیو قوی پارتنر او شریک په بڼه برخه واخلی ترڅو چی په ایروا‌سیا( Eurasia) کی د یو پراخ اقتصادی - سیاسیی اتحاد بنسټ ته لاره اواره کړی اودامریکی د متحده ایالاتو دهڅی اوداند مخه ونیسی کوم چی امریکی غواړی دچین د اقتصا د د ودی مخه ونیسی او چین په منطقه کی داقتصادی ودی له پلوه منزوی او حاشیی ته تیل ورووهی .

دافغانستان دباندنیو چارو وزیر ددوشنبی په ورځ پکن ته دیو اوږد هفتی دخبرواترو اودسیاسی اقتصادی معاملی دتړون په هد ف را ورسید اوپه نظرکی دی چی دافغانستان اقتصادی نخبګان او د تجاری شبکی متصد یا نو د پاره ځنی زیربنا یی لاری ته لاره اواره کړی کوم چی دهغه وده او پرمختګ دچین د حکومت په مرسته سره به تر سره شي .

یو باثبات او ثیکاو افغانستان د چین د تجارتی اموالو دانتقال او د حمل و نقل او دبازار یابی د پاره یوښه معبر ګڼل کیږی اودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره د چین دجمهور ریس جین یانګ (Xi Jinping ) د هغه لوی اقتصادی طرحی د پلی کولو د پاره چی غواړی په مرکزی آسیا کی اقتصادی لاس بری ولری یو ښه فرصت او چا نس ور په برخه کوی - « ټایمس» دخپل د یکشنبی د ورځی په ګڼه کی داسی یو راپور په نشر وسپارل « **چین داسی فکر کوی چی هغه دافغا نستا ن دسولی په پروسه کی ستر رول لوبولی شی » .**

د تیا تردیوی لویی پردی تر شا یا دکاسی لاندی یوه بله کاسه شاید موجود وی او هغه داچی دامریکی متحده ایالات کوم چی دهغه دضد تروریستی ماموریت پایلی لا نه دی تر لاسه شوی یا دضد تروریزم په مبارزه کی لا بریالیتوب نه دی تر لاسه کړی اویو رنګ اوبل رنګ سره له افغانستان څخه دخپل سترتیرو دایستلو په اړه غږبیږی بی له یو ډول نا معلوم اود غلونی د لوبی څخه بل شی نه دی لکه هغسی چی ډو یوکنګ ( Du Youkang) په شا نګهای کی د فودن ( Fuden) په پوهنتون کی د مرکزی اسیا د مطا لعا تو دایرکتر ټایمس (Times) ته د یکشنبی په ورځ داسی ګذارش ورکړ:

( واشنګتین پُست پخپل یو راپورکی داسی راکاږی چی د«اوباما» اداره او دهغه هیواد د نظامی قوتونودمسولینو دوینا په نظر کی نیولو سره داسی رامعلومیږی چی دامریکی

*متحده ایالات دا نیت اویا دا تمایل نه لری چی خپل  سرتیری له افغانستان څخه وباسی .*

*---------------------------------------------* ***په درنا وی***